# الزخرف

**مکی سورة دی ۸۹ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١

**حا- میم( په اصل معنی يې الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه پوهېږی).**

وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢

**قسم په دې روښانه کتاب.**

إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٣

**مونږ د دې قرآن لپاره( روانه او فصیحه) عربی ژبه غوره کړه تر څو پکې خلک له فکر او تعقل نه په ښه توګه کار واخلی.**

وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ٤

**او دا په ام الکتاب( لوح محفوظ) کې ثبت، زمونږ سره د لوړې مرتبې لرونکی، له حکمتونو ډک( او له هر ډول تبدیل او تحریف نه کاملاً محفوظ او مصئون کتاب) دی.**

أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ٥

**آیا له دې امله چې تاسو يو له حده تيری کوونکی قوم یاست، نو مونږ درنه قرآن منع کړو( او له اخروی عذاب او عتاب نه مو و نه ویروو؟ نه- بلکه مونږ قرآن نازلوو، تر څو حق ته مایل انسانان د هدایت له حق نه محروم نشی او په سخت زړو کافرانو او مشرکانو باندې زمونږ حجت هم تمام شی).**

وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن نَّبِيّٖ فِي ٱلۡأَوَّلِينَ ٦

**او مونږ ډير پيغمبران( پخوانيو مسرفينو ته )ليږلی( او د اسراف له امله مو د پيغمبرانو له هداياتو او تبليغ څخه، نه دی بې برخی کړی).**

وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٧

**خو هر پيغمبر چې ورته راغلی  د دوی له ملنډو  او مسخرو  سره مخامخ شوی دی.**

فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨

**نو مونږ هغه کسان هلاک کړل چې( ستا د عصر) له ظالمانو نه ډير زيات پياوړی وو،او د هلاکت داستانونه يې( د مبارک قرآن په نورو سورتونو کې) تير شوی دی.**

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ٩

**او که له دوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړی، بې له ځنډه به درته ووايی چې برلاسی او پوه ذات( الله تعالی) پيدا کړی دی.**

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا
لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠

**هغه ذات چې ځمکه يې ستاسو لپاره د آرام او استراحت ور ګرځولی او په هغې کې يې لارې جوړې کړې( تر څو وربانديې تاسو خپلو ټاکلو منزلونو ته) ورسيږئ.**

وَٱلَّذِي نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ
تُخۡرَجُونَ ١١

**او هغه ذات دی چې د آسمان( له لوری) يې په خاصه اندازه اوبه نازلې کړی، او په هغو مو په مړه ځمکه کې نوی ژوند پيدا کړی، تاسو به هم په همدغه ډول( د قيامت په ورځ له قبرونو څخه) راوباسو.**

وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْفُلْكِ وَٱلْأَنْعَٰمِ مَا
تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾

**او هغه ذات چې د ټولو مخلوقاتو جوړې (او انواع او اصناف) یې پیدا او ستاسو د سپرلۍ لپاره یې کښتۍ او څاروی پیدا کړی دی.**

لِتَسْتَوُۥا۟ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا ٱسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ
وَتَقُولُوا۟ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾

**نو په هغو باندې له کښیناستو سره سم د خپل رب نعمت او لورینه یاده کړئ او ووایئ: ډیر پاک دی هغه ذات چې مونږ ته یې( د سپرلۍ د دغو وسایلو) د تسخیر (او ورڅخه د استفادی عقل، پوهه او تدبیر راکړی) که نه مونږ له هغو څخه د ګټې اخستو توان او طاقت نه درلود.**

وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾

**او یقیناً چې مونږ د خپل رب حضور ته ورګرځیدونکی یو.**

وَجَعَلُوا۟ لَهُۥ مِنْ عِبَادِهِۦ جُزْءًا ۚ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

**او( جاهل کافران او مشرکان) د الله تعالی ځینې بندګان د هغه د ذات لپاره د اولادونو په حیث یادوی، بیشکه چې( کافر) انسان( په رڼو سترګو) احسان هیروونکی دی.**

أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ﴿١٦﴾

**آیا( ممکنه ده چې) الله تعالی له خپل مخلوق نه د خپل ذات لپاره لوڼه غوره کړی، او تاسو ته ځامن درکړی؟**

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا
وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾

**او کله چې دوی ته د دغه ډول اولاد( لور) د زیږیدو خبر ورکړی شی چې دوی یې الله تعالی ته منسوبوی، نو زړه یې له غمه ډک شی او له خفګانه یې مخ تور واوړی( ځکه لور ورته شرم او عار ښکاری، خو له الله تعالی سره یې همجنسه ګڼی).**

أَوَمَن يُنَشَّؤُا۟ فِى ٱلْحِلْيَةِ وَهُوَ فِى ٱلْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾

(آيا داسې مخلوق يې له الله تعالى سره شريک وګاڼه) چې په ګاڼو او سينګار کې يې روزنه او پالنه کيږي او د مجادلې او مناقشې په وخت کې يې خبرې واضحې او فصيحې نه وي؟

وَجَعَلُوا۟ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمْ عِبَـٰدُ ٱلرَّحْمَـٰنِ إِنَـٰثًا ۚ أَشَهِدُوا۟
خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَـٰدَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُونَ ﴿١٩﴾

او پرښتې چې د رحمن( خداى) بندګان دي( دوى يې پخپل ناقص زعم او فکر) ښځينه موجودات ګڼي. آيا( کافران) د پرښتو د پيدايښت په وخت حاضر وو( چې د هغوى ښځمنتوب ورته ثابت وي؟) د دوى دغه( ناروا) ګواهي به يې( په عملنامو کې) ثبت او د پوښتنې وړ وي.

وَقَالُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحْمَـٰنُ مَا عَبَدْنَـٰهُم ۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ
إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾

او وايي که الله تعالى غوښتى موږ به د بتانو پرستش نه کاوه. دغه ادعا يې هيڅ علمي او منطقي دليل نه لري،بلکه دوى يوازې په دروغو او اټکلونو پسې روان دي.

أَمْ ءَاتَيْنَـٰهُمْ كِتَـٰبًا مِّن قَبْلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾

آيا موږ له قرآن نه وړاندې، دوى ته داسې کوم کتاب ورکړى چې دوى پرې د خپلې ادعا لپاره حجت وړاندې کړي؟

بَلْ قَالُوٓا۟ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِم
مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾

بلکه دوى( د خپلې بت پرستۍ او شرک لپاره) همدا يو دليل وايي چې پلرونه او نيکونه مو د بتانو په عبادت ثابت ليدلي او موږ هم د هغوى پيروى کوو.

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا
وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾

( دغه د پټو سترګو جاهلانه پیروی یوازې د اوسنیو کافرانو خاصیت نه دی بلکه) هر ښار ته چې مونږ اخطار ورکوونکی( پیغمبر) استولی، عیاشو او متکبرو مشرانو به یې ویل مونږ چې خپل پلرونه نیکونه په کوم دین او قانون روان لیدلی په  هم هغوی پسې اقتدا کوو.

۞ قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ ءَابَآءَكُمْ ۖ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾

( پیغمبر) ورته وویل: که زه تاسو ته د هدایت داسې قانون راوړم چې ستاسو له پلرنی قانون نه زیات هدایت کوونکی وی( وبه یې منئ؟) هغوی وویل: مونږ هیڅکله ستا په راوړی قانون ایمان او باور نه لرو.

فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾

(او د همدغه ځواب سره مو) ترې انتقام واخست، نو په دقت سره وګوره چې د مکذبینو انجام او عاقبت څنګه و؟

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾

او کله چې ابراهیم خپل پلار او قوم ته وویل: زه له بتانو څخه چې تاسو یې عبادت کوی خپله بیزاری او نفرت اعلانوم.

إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾

بلکه( د الله تعالی عبادت کوم) چې زه یې پیدا کړی او د هدایت  په لاره به می رهی کړی.

وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾

او همدا (د توحید قانون یې د یوې پیاوړې کړنلارې په حیث) خپلو راتلونکو نسلونو ته په میراث پریښود، تر څو هغوی هم (د توحید لارې ته) راوګرځی.

بَلْ مَتَّعْتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿٢٩﴾

بلکه ما( د مکې) بت پرستان او د هغوی پلرونه نیکونه له ډول ډول نعمتونو څخه برخمن کړی وو، تر دې چې حق( قرآن) او روښانه بیانوونکی  پیغمبر( محمد) ورته راغی.

وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾

او کله چې دوی ته حق راورسید ویې ویل: دا خو جادو( او فریب) دی او مونږ ترې بیخی منکر یو.

وَقَالُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾

او وايي: ولی دا قرآن د دوو لويو ښارونو( مکې او طايف) په کوم لوی شخصيت نه دی نازل شوی؟

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا
سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾

آيا ستا د رب د رحمت( نبوت او رسالت) د منصبونو د ويش او انتخاب صلاحيت دوی ته ورکړی شوی؟( هيڅکله نه) موږ د د نيوی ژوند وسايل او سهولتونه د دوی په منځ کې ويشلی او ځينو ته مو( د فکری او مادی درجاتو) په لوړولو سره په نورو برتری ورکړې، تر څو ځينې د ځينو نورو خدمتګاران او تابعداران شی او ستا د رب رحمت له هغو شتمنيو نه ډير غوره دی چې دوی يې راټولوی.

وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِٱلرَّحْمَٰنِ
لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾

(او که دا خطر نه وی چې) خلک به (د کافرانو د شتمنی په ليدلو له ايمان او اسلام نه لاس واخلی او) د کفر په يوه محور به سره راټول شی، نو موږ به د رحمان( خدای له ربوبيت څخه) منکرينو او کافرانو ته داسې مجلل قصرونه ورکړی وی چې چتونه به يې له سپينو زرو څخه تيار شوی وی، او په (طلايی) پوړيو به يې جګو پوړونو ته ختل.

وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾

او د کورونو دروازې او د تکيه وهلو تختونه( او ټول اثاث البيت) به يې هم له سپينو زرو جوړ وی.

وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَٱلْـَٔاخِرَةُ عِندَ
رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾

او په سرو زرو به هم( سينګار او سمبال وی). دا ټول د فانی دنيا د ښکلا وسايل دی خو آخرت ستا د رب په نزد د پرهيزګارانو لپاره ډير غوره دی.

وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ ٣٦

او څوک چې د رحمن خدای له یادو ( او د مبارک قرآن له تلاوت نه)غافل او بې پروا شی،مونږ پرې شیطان مسلط کړو چې د ده نږدې او صمیمی ملګری شی.

وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٧

او داسې یې منحرف( او ګناهونو ته وهڅوی او ناوړه اعمال ورته داسې ښه ښکاره کړی چې پخپله) ګومان کوی د هدایت په لاره برابر روان دی.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيۡتَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَ بُعۡدَ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ فَبِئۡسَ
ٱلۡقَرِينُ ٣٨

تر هغه چې د قیامت په ورځ زمونږ په حضور کې( خپل شیطان ملګری ته) ووایی: ای کاش ته په شرق وی زه په غرب( او ستا مخ می نه لیدی). ته څومره بد ملګری وې زما.

وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ
مُشۡتَرِكُونَ ٣٩

(خو ورته به وویل شی چې دغه ډول خبرې او له شیطان څخه ستاسو د نفرت څرګندول) نن تاسو ته هیڅ ګټه نه لری، ځکه په دنیا کې مو چې په ګډه د ظلم( او شرک) بازار تود کړی و، نن( به د آخرت) په عذاب کې هم سره شریک یاست.

أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ أَوۡ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَٰلٖ
مُّبِينٖ ٤٠

( نو ای پیغمبره!)آیا ته کولی شې( خپل دعوت) په کڼو باندې واوروی او یا د ګمراهۍ( کفر، شرک، شک او قصدی او عمدی نافرمانۍ په تیارو کې ) سرګردانو ړندو کسانو ته لارښوونه وکړې؟( بلکه دا ستا په واک او اختیار کې نه ده نو معامله یې الله تعالی ته وسپاره).

فَإِمَّا نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ٤١

( ای پیغمبره!) که ته له دنیا نه رحلت هم وکړې( او دوی ته موعود عذاب و نه وینې هم څه پروا نشته) مونږ په هر حال له دوی څخه( د کفر او نافرمانۍ) انتقام اخلو.

أَوْ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِى وَعَدْنَٰهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾

**او دا هم کیدی شی چې ته پخپل ژوند، دوی ته موعود عذاب ووینې، بیشکه چې مونږ په هغوی باندې کامل تسلط لرو.( البته پیغمبر علیه السلام پخپل ژوند ولیدل چې کافران په بدر کې د الله تعالی په عذاب اخته شول).**

فَٱسْتَمْسِكْ بِٱلَّذِىٓ أُوحِىَ إِلَيْكَ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٣﴾

**نو ( قرآنی)احکام چې تاته یې وحي کیږي،په کامله توګه تطبیق کړه( او د کافرانو او مشرکانو د تکذیب او مخالفت پروا مه ساته) بیشکه چې ته د هدایت په حقه لار روان یې( چې هیڅ کوږوالی او انحراف پکې نشته).**

وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾

**او یقیناً چې دا قرآن ستا او ستا د قوم لپاره د پند( عزت او وقار) منبع او مرجع ده، او ستاسو نه به( د الهی احکامو د تطبیق د څرنګوالی او د دغه لوی شرف او عزت د شکر یې د اداء کولو) پوښتنه وشی.**

وَسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾

**او( ای پیغمبره! د معراج او اسراء په شپه) له پخوانیو پیغمبرانو( او یاهم د پخوانیو آسمانی ادیانو او کتابونو له علماو) نه پوښتنه وکړه چې آیا مونږ( کوم پخوانی امت ته) د رحمن خدای په مقابل کې د نورو باطلو معبودانو( بتانو) د عبادت او پرستش اجازه ورکړې ده؟( بیشکه چې هیڅ یوه امت ته د بت پرستۍ امر نه دی شوی، او ټول پیغمبران او د هغوی حقیقی پیروان د الله تعالی په توحید ګواهان دی).**

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَقَالَ إِنِّى رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾

**او موسی مو له خپلو معجزاتو سره فرعون او د هغه د قوم اشرافو او سردارانو ته ورواستاوه، چې ورته یې وویل: زه تاسو ته د رب العالمین استازی یم.**

فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَضْحَكُونَ ﴿٤٧﴾

**خو کله چې یې زمونږ معجزات ورته وړاندې کړل، هغوی ورباندې خنداګانې( ملنډې او مسخرې) وکړې.**

وَمَا نُرِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا وَأَخَذْنَاهُم
بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤٨﴾

او هره معجزه او دليل چې مونږ به هغوی ته وړاندې کاوه له پخوانی هغه څخه به لوی او برجسته( او لا پسې د حقيقت روښانه کوونکی و خو کله چې يې زمونږ ټول معجزات دروغ وګڼل) نو په پرله پسې دنيوی عذابونو( لکه قحطی او وچکالی، توپان، ملخانو، نباتی سپږګکو او وينو) مو اخته کړل، تر څو له(خپلو خرافاتی عقايدو څخه) را وګرځی.

وَقَالُوا يَا أَيُّهَ السَّاحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا
لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

او (کله چې به په عذاب اخته شول نو موسى عليه السلام ته به يې) ويل: ای ساحره! رب خو دې ستاسره( د دعا قبلولو) وعده کړې، نو زمونږ لپاره ورته دعا وکړه( چې له دې عذابه مو وژغوری) مونږ به بې له ځنډه د هدايت په لاره روان شو.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

خو همدا چې عذاب به مو ترې اوچت کړ بيرته به يې پخپلو وعدو پښې کيښودې( او د پخوا په شان به پخپل کفر او عناد ټينګ ودريدل).

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ
الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾

او فرعون خپل قوم ته اعلان وکړ چې: ای زما قومه آيا د مصر حکومت او سلطنت زما لپاره ځانګړی نه دی؟ دغو ويالو او رودونو ته نه ګوری چې زما (د قصرونو) لاندې بهيږی؟ (آيا زما شان شوکت او عظمت او په مقابل کې مې د موسی فقر او تنګلاسی ته) نه ګوری؟

أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾

آيا له دې خوار او بې ارزښته سړی نه چې خپلې خبرې هم په وضاحت نشی کولی، زه غوره اوبهتر نه يم؟

فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾

( که موسی د عزت، وقار او کرامت لرونکی شخصیت وی) نو اوس به یې( زمونږ او نورو معاصرو پادشاهانو په شان) زرین وښی په لاسو وی( او د نبوت د تصدیق او اثبات لپاره) به ورسره پرښتې په بدرګه ګرځیدی.

فَٱسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾

( نو فرعون په دغو تبلیغاتو او فریبونو) خپل قوم تیرویست، او د ده تابع شول ځکه فرعونیان یو فاسق او نافرمانه قوم و.

فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٥﴾

او کله چې یې( په عصیان او عناد کې پخپل افراط سره) زمونږ قهر او غضب راوپاراوه نو( د نافرمانۍ) انتقام مو ترې واخست او ټول مو له یوې مخې( د سرې بحیرې په اوبو) لاهو کړل.

فَجَعَلْنَٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ ﴿٥٦﴾

او هغوی مو( د عذاب د نورو مستحقو کافرانو) د مخکښانو په حیث وټاکل چې داستان یې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت د لوی درس پحیث په نړیوال تاریخ کې ثبت شو.

۞ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾

او کله چې( په قرآنی آیتونو کې) د مریم د زوی یادونه کیږی( او د هغه د پلار نشتوالی او عجیب او نادر معجزات د الله تعالی د کامل قدرت د مثال په توګه وړاندې کیږی) نو ستا (مشرک او بت پرست) قوم وربانډې خنداګانې او مسخرې کوی.

وَقَالُوٓا۟ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ
خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾

او( کله چې د شرک د تردید او قباحت لپاره دوی ته وویل شی چې تاسو او باطل معبودان به مو ټول په دوزخ کې وی، نو وایی: آیا زمونږ خدایان ښه دی که هغه( عیسی چې نصرانیان یې عبادت کوی، که زمونږ خدایان دوزخ ته ځی نو عیسی او عزیر به هم ورسره وی)؟ دا مثال تا ته یوازې د جدل او جنجال لپاره وړاندې کوی، واقعاً چې دا یو لجوج او جنجالی قوم دی.

إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ٥٩

عیسی یوازې او یوازې یو داسې بنده و، چې مونږ ورته( د نبوت او معجزاتو) نعمت ورکړی و، او هغه مو د
خپل قدرت د یوې نښې په توګه بنی اسرائیلو ته وړاندې کړ( تر څو یې د بې پلاره ولادت، نبوت او بې مثاله
معجزاتو په وسیله حق روښانه او ومنل شی).

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ٦٠

( د الله تعالی د کامل قدرت عجایبات یوازې د عیسی په بې پلاره ولادت او د هغه په معجزاتو کې نه خلاصه
کیږی) بلکه که مونږ وغواړو ستاسو په ځای به پرښتې په ځمکه کې ځای په ځای کړو( او یا به تاسو په
پرښتو بدل کړو).

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ
مُّسْتَقِيمٌ ٦١

او بیشکه چې عیسی د قیامت یوه لویه نښه ده( د عیسی زیږیدل او د هغه په واسطه د مړی ژوندی کیدل، د
قیامت په ورځ د ټولو مړو د بیا راژوندی کیدو یو مؤثق دلیل دی) نو هیڅکله د قیامت په راتګ( او بعث
بعدالموت) کې شکونه مه کوئ،( او په توحید او ایمان کې زما د احکامو) اطاعت وکړئ چې همدا ستاسو( د
نیکمرغۍ لپاره) مستقیمه لار ده.

وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ٦٢

او شیطان باید تاسو( د هدایت له لارې) بې لارې نه کړی ( او پوه شئ چې) هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم
بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ٦٣

او کله چې عیسی له څرګندو دلایلو او معجزاتو سره راغی ویې ویل واقعاً چې تاسو ته له حکمت( نبوت،
شریعت او ثابتو احکامو سره) راغلی یم، غواړم د هغو دینی اختلافی مسایلو په باب درته نوی احکام بیان(او
هغه حرام شیان درته هم حلال اعلان کړم چې په موسوی شریعت کې حرام شوی وو) نو له الله تعالی نه
وویریږئ او زما اطاعت وکړئ.

إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦٤

بيشكه چې الله تعالى هم زما او هم ستاسو رب دی نو د هغه اطاعت وکړئ چې همدا( د هدايت) مستقيمه لار ده.

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ عَذَابِ
يَوۡمٍ أَلِيمٍ ٦٥

د عيسى له امت څخه ځينو ډلو( د هغه او د هغه د دين په باب) نانډرئ او اختلافات پيل کړل نو تباه او هلاک دې وی ظالمان د دردوونکې ورځې په عذاب.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا
يَشۡعُرُونَ ٦٦

آيا دې ته سترګې په لار دی چې ناڅاپه ورباندې قيامت راشی او دوی ترې کاملاً ناخبره وی؟

ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ ٦٧

په هغه ورځ به ډير( دنيوی) دوستان يخپلو کې سره دښمنان وی خو پرهيزګاران( به سره صميمی او مخلص دوستان وی).

يَٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ٦٨

( الله تعالى به هغه ورځ پرهيزګارانو ته ووايی:) ای زما بندګانو نن په تاسو، نه کومه ويره او ترهه شته او نه پريشانی او غم.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٦٩

دا هغه کسان دی چې زمونږ په آيتونو يې کامل ايمان درلود او تل( زمونږ احکامو او فرمانونو ته) تسليم او غاړه ايښودونکی وو.

ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ ٧٠

( يو غيبی اعلان به ورته وشی) له خپلو( مؤمنو) ميرمنو سره يو ځای په خوښی او خوشالئ جنت ته ننوزی.

يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖۖ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ
ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٧١

( له جنتي طعامونو ډک) زرين لوښي او( له پاکو او مطهرو شرابو ډک) جامونه به وربانديٍ ګرځول کيږی او چې څه يې زړونه غواړي او په څه چې يې سترګې خوښيږی( ورته به حاضر وی، او ای پرهيزګارانو!) تاسو به له همدغو نعمتونو څخه تل تر تله برخمن ياست.

وَتِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِيٓ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧٢

دا هغه جنت دی چې تاسو ته ستاسو د نيکو اعمالو په بدل کې په ميراث پاتې دی.

لَكُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ كَثِيرَةٞ مِّنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٧٣

همدلته ستاسو د خوراک لپاره ډول ډول خوندورې ميوې تيارې شوې دی.

إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ٧٤

بيشکه چې مجرمين به تل تر تله د دوزخ په عذاب کې پراته وی.

لَا يُفَتَّرُ عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ٧٥

( عذاب) به ترې نه کميږی او له خپل نجات نه به کاملاً نا اميده وی.

وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُواْ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧٦

او مونږ په هغوی ظلم زياتی نه دی کړی بلکه دوی پخپله( د کفر او شرک په غوره کولو سره) پخپلو ځانونو ظلم کاوه.

وَنَادَوۡاْ يَٰمَٰلِكُ لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ٧٧

او چيغې به وهی چې ای( د دوزخ ساتونکيه!) رب ته دې ووايه چې مونږ ته مرګ راکړی( تر څو له دې عذابه خلاص شو). خو هغه به ورته ووايی چې همدلته به اوسيږئ.

لَقَدۡ جِئۡنَٰكُم بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ٧٨

بيشکه چې مونږ تاسو ته( د انبياو په وسيله) حق راوړ، خو ستاسو اکثريت له حقيقت نه کرکه وکړه.

أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ أَمۡرٗا فَإِنَّا مُبۡرِمُونَ ٧٩

بلکه( د قریشو سرداران په دارالندوة کې د الله تعالی د رسول په ضد د یوه قاتلانه اقدام او دسیسی لپاره) متفق او مصمم شول، او مونږ هم( د هغوی د خائنانه دسیسې د شنډولو او ورته د سزا ورکولو لپاره) ټینګه اراده وکړه.

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾

آیا دوی فکر کوی چې مونږ د دوی اسرار او پټې مشورې نه اورو، بیشکه چې مونږ یې اورو او زمونږ استازی له هغو سره حاضر (او ټول اعمال او اسرار یې) لیکی.

قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿٨١﴾

( مشرکانو ته) ووایه که( بالفرض) رحمن خدای اولاد درلودی نو زه به یې لومړنی عبادت کوونکی وم.

سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾

ډیر پاک او مبری دی د آسمانونو او ځمکې رب، او د عرش څښتن الله تعالی له ټولو (هغو ناروا) توصیفاتو څخه چې کافران یې ورته منسوبوی.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾

پرېږده چې دوی پخپلو ( باطلو اقوالو او افعالو او) د دنیا په بې ارزښته مزو چرچو کې ډوب او مصروف وی، تر څو وربانديږ هغه ورځ راشی چې له دوی سره یې وعده شوې ده.

وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾

او همدا یوازې د الله تعالی ذات دی چې هم په آسمانونو او هم په ځمکه کې حقیقی رب او حکیم او پوه ذات دی.

وَتَبَارَكَ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾

او د ډیر زیات برکت لرونکی دی هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې مالکیت او د هغو ترمنځ د ټولو موجوداتو او مخلوقاتو حاکمیت او سلطنت ورسره دی ، او د قیامت د ټولو چارو علم هم یوازې له هغه سره دی او ټول بالاخره د هغه حضور ته ورګرځیدونکی دی.

وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾

**او هغه کسان چې دوی يې د الله تعالی په مقابل کې عبادت کوی د شفاعت هيڅ اختيار ورسره نشته، بلکه د شفاعت اختيار له هغه چا سره دی چې په حق باندې ګواهی ورکړی او د شفاعت مستحقين هم وپيژنی.**

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾

**او که ترې وپوښتې چې( دوی او معبودان يې) چا پيدا کړی دی؟ يقيناً چې( په ځواب کې) به ووايی: الله تعالی پيدا کړی يو. نو بيا څنګه( د الله تعالی له عبادت نه مخ اړوی او له حق نه باطل ته) منحرف کيږی؟**

وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

**او (آيا د پيغمبر له شکايت نه بې خبره دی چې) وايی: ای ربه دا هغه ډله ده چې ايمان نه راوړی.**

فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَٰمٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

**نو( ای پيغمبره! مه دغو خلکو ته ښيراوې کوه او مه يې په سختو ټکو رټه بلکه) د سلام په ويلو ترې مخ واړوه( او د خپل اسلامی دعوت او تبليغ فريضې ته ادامه ورکړه). دوی به ډير زر( د خپل شقاوت او کفر او عناد په عواقبو او نتايجو) خبر شی.**

**« تمت سورة الزخرف بعون الله رب العالمين».**

**==================**